هفته واره رساله



# د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیانونه

(مع افاداتِ امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه)

- دري اهمې خبرې
- د شاتو په شان زهر
- د دنیا او آخرت مثال
- د هر مشکل نه پس آسانې


شیخِ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال

محمد الیاس عطّار قادری رضوی دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانونه (1)

## (سَره د افاداتِ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه)

دُعائے عطّار: يا رَبَّ الْمُصطفٰے! eek څوک چې دا رساله " د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانونه " ولولي يا واوري، هغهٔ خپل وَلي جوړ کړې او هغهٔ سره د موره او پلاره بے حسابه اوبخښي او جنَّت الفردوس ته يے داخل کړې- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت اُبَي بِن كَعب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عرض وکړو چې زهٔ به (ټول وِرد، وظيفې پرېږدم او) خپل ټول وخت به پهٔ دُرُود وئيلو کښې تيروم- نو د مدينے سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: دا به ستا د فِکرونو لرې کولو د پاره کافي وي او ستا ګناهونه به معاف کړے شي-
(ترمذی،207/4،حدیث:2465)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نيکانو خلقو د ذِکر شان

حضرت سفيان بن عيينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: عِنْدَ ذِكْرِ الصَّالِحِيْنَ تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ يعني " د نيکانو خلقو د ذِکر کولو پهٔ وخت رحمت نازليږي-" (حلیۃ الاولیاء،335/7،رقم:10750)

(1)... پهٔ ربيعُ الآخر کال 1445 هجری مطابق اکتوبر کال 2023 پهٔ عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه (کراچی) کښې د يولسم شريف د مَدَني مذاکرو نه مخکښې د اميرِ اهلِسُنَّت دامت بَرَکاتُہمُ العالیہ د 11 بيانونو ليکلې ګلدسته (د څهٔ ضروري ترميمونو سره)-

چې د الله پاک د نيکانو بندګانو د ذِکر کولو پهٔ وخت رحمت نالیږي نو د الله پاک د اولياؤ د ذِکر کولو پهٔ وخت به رحمت څنګه نهٔ نازليږي او چې کله د وليانو د سردار، شهنشاهِ بغداد شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡه ښکلې ښکلې خبرې کيږي نو د رحمتونو، انوارو او تجلو به ځومره بارانونه کيږي- د الله پاک د نيکانو بندګانو خاص په طور زما د پير او مُرشِد، حضورِ غوثِ پاک سيِّدُنا شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡه ذِکرِ خير به کيږي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!

## تر پينځلسو کالو پورې روزانه پهٔ نـمونځ کښې د قرآنِ کريم ختم

زما مُرشِد سرکارِ غوثُ الاعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡه د تحديثِ نعمت (يعنې د خپل رَبّ نعمتونه ظاهرولو) او د خپلو غلامانو د نصيحت د پاره فرمائي:

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زهٔ تر 25 کالو پورې د عراق پهٔ دَښتو کښې ګرځيدم او تر څلويښتو کالو پورې مې د ماسخوتن د نـمونځ پهٔ اوداسه باندې د سحر نـمونځ ادا کړو- تر پينځلسو کالو پورې به مې روزانه د ماسخوتن د نـمونځ نه پس پهٔ نفلونو کښې يو ځل د قرآنِ کريم ختم کولو- پهٔ شروع شروع کښې به مې د رسۍ پهٔ يو سر خپل بدن وتړلو او دويم سر به مې پهٔ ديوال کښې د ټک وهلے شوې کونټۍ سره تړلو د پاره د دې چې که خوب غالب شي نو د دې پهٔ جټکه به مې سترګې وغړيږي- (بہجۃ الاسرار، ص 118 ملخصاً)

حضورِ غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡه فرمائي: يوه شپه چې کله ما د خپلو عبادتونو سلسله شروع کول غوښتل نو نفس سستي وکړه او لږ وخت يـې د اوده کيدلو او بيا د راپاڅيدلو او د عبادت کولو مشوره راکړله، پهٔ کوم ځائے کښې چې مې پهٔ زړهٔ کښې دا خيال راغلے وو هم پهٔ هُغه ځائے کښې او هم پهٔ هُغه وخت پهٔ يوه ښپه ودريدم او د قرآنِ کريم يو ختم مې وکړو- (تحفۃ القادریہ، ص40۔ سانپ نماجن، ص15)

زما د مُرشِد غوثِ پاک شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَيۡه سره محبت کوونکـو! زما د مرشد پهٔ باره کښې اوس تاسو ولوستل چې څنګه عبادتونه به يـې کول او د نفس د طرف نه چې

وسوسه راغله نو هغه له يـې خومره نا اشنا سزا ورکړله- د بغداد سرکار، حُضُورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه خو به دومره عبادت کولو او مونږ د هغهٔ منونکي که پينځه وخته نـمونځ هم اونه کړو نو مونږه بيا د غوثُ الاعظم رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه څنګه عاشقان يو؟ د غور خبره ده-

ياد ساتئ! که مونږه د نفس او د شيطان لږ شان خواهشات اومنو نو پهٔ مونږ باندې به خپل تول خواهشات مني مثلاً د سحر د نـمونځ د پاره د چا سترګې وغړيدلې، هغهٔ دا سوچ وکړو چې اوس خو لا اذان کيږي يا جَمعې ته لا ډير وخت دے څکه لږ سعت نور اوده کيږم او هغهٔ اوده شو نو ډير ځل داسې کيږي چې جَمعه ترينه وشي- (دا مسئله هم ياده ساتئ چې) که چرې د شپې تر ناوخته پورې د اوده کيدو له وجهې د سحر د نـمونځ د پاره سترګې نه غړيږي او نهٔ څوک راپاخولو والا موجود وي نو ضروري ده چې زر اوده شئ چې فقهائے کرام رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡهم فرمائي: " چې کله دا انديښنه وي چې د سحر نـمونځ به رانه لا ړ شي نو بغير د شرعي ضرورت نه دهٔ د پاره تر دې شپې ناوخته پورې ويخ پاتې کيدل منع دي-" (فيضانِ نماز، ص92۔ درالمحتار، 33/2)

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْــب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## درې اهمې خبرې

د حضورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُاللّٰهِ‌عَلَيۡه د اثر نه ډکو بيانونو نه څهٔ مَدَني ګلونه حاصلوو، غوثُ الاعظم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه پهٔ خپل کتاب " فُتُوحُ الغيب" صفحه نمبر 17 باندې ليکي: د مسلمانانو د پاره پهٔ هر حالت کښې درې څيزونه ضروري دي: ﴿1﴾ د الله پاک پهٔ حکم باندې عمل کول ﴿2﴾ د هغهٔ د منع کړے شوؤ خبرو نه بچ کيدل او ﴿3﴾ د الله پاک پهٔ رضا باندې راضي کيدل-

زما مرشد فرمائي: د يو مسلمان کم از کم دا حالت پکار دے چې د دې دريو واړو

خیزونو نه پهٔ یو حال کښې هم خالي نه وي- (فتوح الغیب ( اُردو )، ص 17) یعنې دا درې وارہ خیزونه پهٔ هغهٔ کښې موجود پکار دي-

**اے د غوثِ اعظم** رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ **عاشقانو!** لږ سوچ وکړئ! آیا مونږه د غوثُ الاعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پهٔ دې فرمان باندې عمل کوو؟ یقیناً چې نـمونځ، زکوٰة، حج او روژه پهٔ مسلمانانو باندې د مختلفو شرطونو سره فرض ده آیا مونږ د اللّٰه پاک پهٔ دې احکاماتو باندې عمل کوو؟ د غوثُ الاعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نیکه بابا جان، رحمت عالمیان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي چې د اِسلام بنیاد پهٔ پینځوو خیزونو باندې دے: ﴿1﴾ د دې خبرې ګواهي ورکول چې د اللّٰه پاک نه علاوه څوک هم د عبادت لائق نشته او مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغهٔ خاص بنده او رسول دے او ﴿2﴾ نـمونځ قائمول ﴿3﴾ زکوٰة ورکول ﴿4﴾حج کول او ﴿5﴾ د رمضان روژې نیول- (بخاری،14/1،حدیث:8) پهٔ یو بَل حدیثِ پاک کښې دي چې د اللّٰه پاک دا خوښ دي چې د هغهٔ پهٔ عطا کړے شوو فرائضو باندې عمل وکړے شي-

( ابن حبان، 231/5، حدیث: 3560 ملتقطاً)

نَمازوروزه وحَجّ وزَکوٰة کی توفیق
عطا ہواُمّتِ محبوب کوسدا یارب
(وسائلِ بخشش، ص 88)

## اولیائے کِرام د شریعت پابند وي

**اے د غوثِ اعظم** رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ **عاشقانو!** زمونږه د مُرشِد، حضورِ سیِّدنا غوثِ پاک شیخ عبدُ القادِر جیلاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د فرمان عالي شان دویمه حصه ده: " د اللّٰه پاک د منع کړے شوو کارونو نه بچ کیدل"- کاش چې زمونږه پهٔ دې باندې هم عمل نصیب شي- د اللّٰه کریم د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد مبارک دے: د اللّٰه پاک ولیان نـمونځ ګزاره دي کوم چې د اللّٰه پاک فرض کړے شوي پینځه وارہ نـمونځونه کوي او د ثواب د پاره د رمضان روژې نیسي او پهٔ خوشحالۍ د ثواب د پاره

زکوٰة ادا کوي او د الله پاک د منع کړے شوو کبيره (يعني غټو) ګناهونو نه بچ کيږي-" (معجم کبير، 48/17، حديث:101 ملتقطاً) پۀ "کشف الأسرار" کښې دا حديثِ پاک بيان کړے شوے دے چې د " الله پاک " پۀ منع کړے شوو څيزونو کښې د ذرې برابر منع کيدل يعنې بچ کيدل د پيريانو او د انسانانو د عبادت نه افضل دي- (کشف الاسرار، 154/1) د زرګونو رکعته نفل نـمونځ کولو پۀ مقابله کښې د چا مسلمان زړۀ نۀازارول دا افضل دي- هم داسې يو ځل د غيبت نه بچ کيدل د پيريانو او د انسانانو د عبادت نه بهتر دي- د ګناه نه د بچ کيدو ډير اهميت دے- ځکه چې ضرر ته پۀ نفع باندې ترجيح وي يعنې نفع حاصلول بے شکه چې صحيح دي خو د ضرر نه بچ کيدل دا ډير اهم وي، ځکه دې انسان هيڅکله هم ګناه نه کوي او نيکئ دې کوي، دا دې هم نه پريږدي-

## پۀ ژبه کښې د اثر پيدا کولو عمل

حضرت علامه احمد صاوي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: کوم کَس چې د خپل رَبِّ کريم حُکم پوره کړي، د هغۀ د منع کړے شوو څيزونو نه بچ شي او نيک اعمال اختيار کړي او (خلق) د الله پاک طرف ته راوبلي (يعنې د نيکئ دعوت ورکړي) نو د هغۀ خبره به منلے کيږي او د هغۀ خبرې به پۀ زړونو باندې اثر هم کوي- (تفسيرصاوی، 5/ 1851)

جسے نیکی کی دعوت دوں اُسے دیدے ہدایت تُو
زباں میں دے اثر کردے عطارِ قلم مولیٰ
(وسائلِ بخشش، ص 99)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ نصيحت باندې د عمل کولو برکتونه

زما مرشد حضورِ غوثِ پاک شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: چې کله تۀ د

الله پاک فرمانبرداره او د هغۀ پۀ حُڪم باندې عمل ڪوونڪے، د هغۀ د منع ڪړے شوو کارونو نه بچ کيدونڪے او د هغۀ پۀ تقدير (يعنې هغۀ چې څۀ ستا د پاره مقرر کړي دي د هغې) منلو والا يـې نو هغۀ به تا د شَر نه بچ ساتي او پۀ تا باندې به خپل خيرونه زياتوي- (شرح فتوح الغيب (اُردو)، ص238 ملخصاً)

## سحر او مابنام عبادت کوئ

پۀ يو بَل ځائے کښې زما مُرشد شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د الله پاک اطاعت او فرمانبرداري سحر او مابنام کوه چې کله تۀ داسې کوې نو د عزت او کرامت (يعنې د بزرګۍ) تاج به ستا پۀ سر باندې وي- (الفتح الرّباني والفيض الرحماني، ص51)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## سختۍ لرې شوې

حضرت امام عبدُ الوهاب شعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ "طبقاتِ کبریٰ" کښې د حضور غوثُ الاعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا ارشادِ پاک ليکي چې پۀ شروع شروع کښې پۀ ما باندې ډير ازميښتونه، تڪليفونه راغلل چې کله هغه ډير زيات شول نو زۀ بے وسه شوم او پۀ زمکه باندې سملاستم او زما د خُلې نه د قرآنِ پاک دا دوه آيتونه مبارک جاري شول: ﴿ فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًاۙ(۵) اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًاؕ(۶) ﴾ (پ 30، الم نشرح: 5، 6)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان:[1] "نو بے شکه سختۍ سره اساني ده- بے شکه سختۍ سره اساني ده يعنې د مشکل سره اساني ده- اَلْحَمْدُ لِله! د دې آيتونو پۀ برکت زما ټول مشکلات اسان شول-" (طبقات الکبریٰ للشعرانی، 1/178 ملخصاً- سانپ نما جنّ، ص 9)

---

[1] ... پۀ دې رساله کښې د شاملو ټولو قرآني آيتونو ترجمه د "کنز العرفان" نه راخستے شوې ده-

واہ کیا مرتبہ اے غوث ہے بالا تیرا اونچے اونچوں کے سروں سے قدم اعلیٰ تیرا

(حدائق بخشش، ص19)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه 4 فرامين

### ﴿1﴾ د اللّٰه پاک نه ويره

زما مرشد حضورِ غوثِ پاک شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: اے د اللّٰه پاک بنده! تهٔ د اللّٰه کريم نه مهٔ بے ويرې کيږه بلکې ويره [1] لازمي ونيسه، که اللّٰه پاک جنَّت او دوزخ نه وے پيدا کړے نو بيا هم د هغهٔ ذات د دې خبرې مستحق وو چې د هغهٔ نه ويره وکړے شي او د هغهٔ نه اميد وساتلے شي- د هغهٔ فرمانبرداري وکړه، د هغهٔ پهٔ حکم باندې عمل وکړه او د هغهٔ د منع کړے شوو کارونو نه بچ ووسه ، تهٔ د هغهٔ پهٔ بارګاه کښې توبه وکړه او د هغهٔ پهٔ مخکښې ښه ډيره عاجزي او ژړا زاري وکړه او چې کله تهٔ د رښتوني زړهٔ نه توبه وکړې او د استقامت سره نيکئ کوې نو اللّٰه کريم به تا ته نفع عطا کړي- (الفتح الربانی، ص75 ملخصاً)

توڑ ڈر اپنا عنایت کر رہیں اس ڈر سے آنکھیں تر مٹا خوفِ جہاں دل سے مٹا دنیا کا غم مولیٰ

(وسائلِ بخشش، ص98)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... د اللّٰه پاک نه د ويرې مطلب دا دے چې د اللّٰه پاک د بے نيازۍ، د هغهٔ د ناراضګۍ، د هغهٔ د ګرفت او د هغهٔ د طرف نه د ورکړے کيدونکو سزاګانو سوچ وکړے شي او د انسان زړهٔ پهٔ ويره کښې متبلا شي- (خوفِ خدا، ص14۔احیاء العلوم،4/190ماخوذاً)

## ﴿2﴾ د الله پاک د نافرمانو نه بچ شه!

(اے نادانه انسانه!) لږ غور وکړه! چې د دې فنا کېدونکې دُنیا حاصلول بغیر د محنت او مشقت نه ممکن نه دي (یعني د دُنیا د ختمېدونکو نعمتونو د پاره محنت کول پکاروي ) نو هُغه څیز کوم چې د الله کریم سره دے (او همیشه پاتې کېدونکے دے) د هغې بغیر د ریاضت او محنت نه میلاویدل څنګه ممکن دي؟ (الفتح الربانی، ص 222)

یعنې جنَّت ته هم تلل دي او نیکۍ هم مهٔ کوه، دا خیال مهٔ کوه بلکې د هغهٔ عبادت کوه او د هغهٔ د نافرمانو نه ځان بچ کړه۔

عبادت میں گزرے مری زندگانی
کرم ہو کرم یاخدا یاالٰہی
مسلماں ہے عطارؔ تیری عطا سے
ہو ایمان پر خاتِمہ یاالٰہی
(وسائلِ بخشش، ص105)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿3﴾ د مرګ تیارے

اے د الله پاک بنده! د خپلو اُمیدونو ډیوې مړې کړه! د خپل لالچ ځادر راغونډ کړه! او د دُنیا نه د رخصتیدو پهٔ شان نمونځ کوه۔ یاد ساته! د مؤمِن د پاره دا مناسب نه دي چې هغهٔ پهٔ داسې حال کښې اوده شي چې د هغهٔ لیکلے شوے وصیت د هغهٔ د بالښت لاندې پروت نه وي (لکه هغهٔ دې خپله هره شپه اخري شپه وګڼي)۔

اے بنده! ستا خوراک څښاک، د خپل اهل او عیال (یعني بال بچ) سره اوسیدل او د خپلو دوستانو خپلوانو سره میلاویدل د یو رخصتیدونکي ګس پهٔ شان پکار دي، ځکه چې هُغه ګس د چا د ژوند منډې او ټول اختیار چې د بَل چا پهٔ قبضه کښې وي نو دهٔ ته د

دغه شان پهٔ دُنيا کښې اوسيدل پکار دي- (الفتح الربانی، ص 220 ملخصاً)

زندگی اور موت کی ہے یاالٰہی کشمکش
جاں چلے تیری رِضا پر بیکس و مجبور کی
(وسائلِ بخشش، ص96)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د نفس او د شيطان مخالفت

حُضُورِ غوثِ پاک شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: نفس هم د ګناه مشوره ورکوي، دا د هغه فطرت دے- څهٔ موده پس به د دهٔ اِصلاح وشي يعنې د دهٔ پهٔ اِصلاح کښې به وخت لګي- پهٔ تا باندې لازم دي چې د نفس سره مجاهده (يعنې ښه کوشش) کوه- خپل نفس ته هميشه وايه چې ستا نيکه ګټه به تا له فائده درکوي او ستا بده ګټه به ستا د پاره وبال ثابتيږي- بَل څوک به نهٔ خو ستا سره څهٔ عمل کوي او نهٔ به درله د خپلو اعمالو نه څهٔ درکوي- نيک اعمال کول، د نفس مجاهده کول بے حده ضروري دہ- ستا دوست هغهٔ دے څوک چې تا د ګناه نه منع کړي او ستا دښمن هغهٔ دے څوک چې تا ګمراه کړي- تر څو پورې چې نفس د ګند او د غلطو خواهشاتو نه نهٔ وي پاک شوے، نو هغهٔ ته د اللّٰه کريم پهٔ بارګاه کښې نزدې والے څنګه حاصليدے شي؟ د خپل نفس خواهشات او اُميدونه ختم کړه، نو بيا به ستا نفس ستا مطيع او فرمانبرداره شي-

(الفتح الربانی، ص 139، 140 ماخوذاً)

نفس و شیطاں غالِب آئے لو خبر اَب جَلد تر
یارسولَ اللہ! آکر بیکس و مجبور کی
(وسائلِ بخشش، ص96)

اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عاشقانو! زما د پير او د مرشد، حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د اثر نه ډکو بيانونو د لکونو خلقو ژوند بدل کړو، پهٔ

زرګونو غير مسلمه زما د مرشد د بيانونو نه متاثر شول او مسلمانان شول، د بغداد سرکار حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خپل يو بيان کښې د "حَسَد" نه د بچ کيدو په باره کښې ډير په ښکلي انداز کښې پوهه کړې يو خو وړومبے دا واورئ چې حَسَد څۀ ته وئيلے شي!

## حَسَد څۀ ته وئيلے شي؟

په "فتاوىٰ رضويه شريف" جلد: 24، صفحه نمبر: 428 باندې د حَسَد تعريف څۀ داسې بيان کړے شوے دے: د چاني د يو نعمت دتلو ارمان کول-" (ردالمحتار، 66/1) يعنې د چا سره چې څۀ نعمت وي هغۀ د لاس نه لاړ شي، واخستے شي، لوټ شي، د دې ارمان کولو ته "حَسَد" وائي کوم ته چې په انګلش کښې جيليسي (Jealousy) وئيلے کيږي- مثلاً د چا د شهرت يا عزت نه د نفرت جذبه ساتل او خواهش کول چې هغۀ په څۀ طريقه ذليله شي او د هغۀ شهرت او عزت لاړ شي، هم دغه شان د يو مالداره نه سوزيدل او دا ارمان کول چې د هغۀ مالي نقصان وشي او هغۀ غريب شي- داسې ارمان کول حَسَد دے- (بُرے خاتمے کے اسباب، ص 10 ماخوذاً)

## د حَسَد بعضې صورتونه

د حَسَد ډير صورتونه دي: مثلاً د چا د ښه اواز باره کښې دا ارمان کول چې د هغۀ مرى خرابه شي يا د هغۀ اواز د هغۀ نه لاړ شي، د يو قابل طلب علم په باره کښې دا خواهش کول چې د هغۀ حافظه خرابه شي، د چا طاقت ور نه سوزيدل چې هغۀ کمزورے شي، دا ټول د حَسَد مثالونه دي البته که هغۀ طاقت ور بر ناحقه ظلم کوي بيا د هغۀ د پاره ارمان کول چې د هغۀ طاقت لاړ شي دا حَسَد نه دے- حَسَد حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے-

# د شيطان کور بربادونکې بيماري

زما مرشد شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحمَۃُاللّٰہِعَلَیْہ فرمائي: اے خلقو! خپل ځان د حَسَد نه ساتئ ځکه چې دا ډير خراب دوست دے۔ حَسَد هُم هٔغه خراب عادت دے کوم چې شيطان برباد کړو او هغهٔ يې هلاک کړو او هغهٔ يې د اللّٰه پاک د رحمت نه لرې کړو او دوزخي يې جوړ کړو، هم حَسَد شيطان د انبيائے کرامو عَلَیۡھِمُ السَّلام، فرښتو او مخلوق پهٔ نظر کښې لعنتي جوړ کړو۔ يو عقلمند سړےڅنګه حَسَد کولے شي؟ آيا هغهٔ نه دي اوريدلي چې اللّٰه پاک د قرآنِ کريم پهٔ پينځمه سيپاره، سورة النِّسآء، آيت نمبر 54 کښې څهٔ داسې فرمائي:

﴿اَمْ يَحْسُدُوْنَ النَّاسَ عَلٰى مَاۤ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ﴾ ترجمه: بلکې دوئي د خلقو سره پهٔ هٔغه څيز حَسَد کوي کوم چې اللّٰه هغوئي ته پهٔ خپل فضل ورکړے دے۔ (جِلاءُالخواطر، ص3)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ظاهره ده چې ټولو ته هم اللّٰه پاک ورکړه کوي۔ حَسَد کوونکے بنده دې لږ سوچ وکړي چې د اللّٰه پاک د عطا کړے شوي نعمت نه د سوزيدو سره د اللّٰه پاک پهٔ تقسيم باندې ناراضه کيدل دي۔

# نيکۍ خوړونکے څيز

زما پير او مرشد، حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحمَۃُاللّٰہِعَلَیْہ نور حديثِ پاک بيانوي چې د اللّٰه پاک خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: " حَسَد نيکۍ داسې خوري لکه څنګه چې وور وچ لرګي خوري۔"

(ابوداؤد، 360/4، حديث:4903)

# پهٔ اللّٰه پاک باندې اعتراض؟

شهنشاهِ بغداد، حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحمَۃُاللّٰہِعَلَیْہ فرمائي: اے ځويه! علمائے ربانيين (يعني باعمله علماؤ) د حَسَد پهٔ باره کښې خومره د انصاف نه

ډکه خبره کړې ده چې حَسَد د خپل دوست نه شروع کيږي او حَسَد والا هم خپل دوست وژني- حَسَد کوونکے نادانه کَس مَعَاذَ اللّٰه! ، د الله پاک پهٔ کارونو، د هغهٔ پهٔ پيدا کړے شوو څيزونو او د هغهٔ پهٔ تقسيم باندې د الله پاک سره جګړه کوي (لکه چې هغهٔ وائي الله پاک فلانکے نعمت فلانکي له ولې ورکړو؟ الله پاک فلانکے دومره ښائسته ولې جوړ کړو؟ الله پاک هغهٔ دومره مالداره ولې کړو؟ وغيره)- (جِلاءُ الخواطر، ص 3)

الله پاک دې مونږه د حَسَد نه محفوظ کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

حَسَد، وعده خِلافی، جھوٹ، چُغلی، غیبت و تہمت   مجھے ان سب گناہوں سے ہو نفرت یارسولَ اللہ

(وسائلِ بخشش، ص332)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د الله پاک د نعمت دښمن

زما پير او مرشد، حضرت شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: اے مؤمِن بنده! زهٔ تا د خپل ګاؤنډي د خوراک، څښاک، د اغوستو، واده، کور او مال او دولت وغيره نعمتونه کوم چې الله پاک عطا کړي دي پهٔ دې پهٔ حَسَد کولو ولې وينم؟ دا د الله پاک تقسيم دے، آيا تا ته معلومه نه ده چې حَسَد به ستا ايمان کمزورے کړي او تا به ستا د رَبّ د رحمت د نظر نه وغورځوي او الله پاک به پهٔ تا باندې غضبناک شي- آيا تا دا حديثِ قُدسي نه دے اوريدلے؟ پهٔ کوم کښې چې الله پاک ارشاد فرمائي: اَلْحَاسِدُ عَدُوٌّ لِنِعْمَتِيْ حَسَد کوونکے زما د نعمت دښمن دے- (حلیۃ الاولیاء، 10/1234، رقم:15080) حديثِ قُدسي هغې حديثِ پاک ته وئيلے شي پهٔ کوم کښې چې فرمان د الله پاک وي او الفاظ د دواړو جهانونو د سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وي- (تیسیر مصطلح الحدیث، ص108)

حضرت علامه مولانا شيخ عبدُ الحق محدّثِ دهلوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د غوثِ پاک شيخ عبدُ

القادِر جيلاني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پهٔ دې بيان کښې د ګاؤنډي د مثال ورکولو وضاحت کوي او فرمائي: حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ګاؤنډي څکه خاص کړے دے او بيان کړے دے چې اکثر انسان د خپل ګاؤنډي نه پهٔ دې څيزونو کښې د وړاندې تللو کوشش کوي۔ (شرح فتوح الغیب،(اردو)ص305،307ملتقطاً وملخصاً)

واسطہ غوث ورضا کا دُور ہو
ہر بُری خصلت اے نانائے حُسین
(وسائلِ بخشش،ص257)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نادانه انسان

زما پير او مُرشد، شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: اے مسکين بنده! تهٔ پهٔ کوم څيز باندې حَسَد کوې، آيا د هغې (نعمت ورکړے شوي کَس) پهٔ حصه باندې يا پهٔ خپل قِسمت باندې؟ که چرې تهٔ د هغهٔ پهٔ قِسمت باندې حَسَد کوې څهٔ چې الله پاک هغهٔ ته عطا کړي دي لکه څنګه چې پهٔ 25 سيپاره، سورة الزّخْرَف آيت نمبر 32 کښې ارشاد دے: ﴿نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَّعِيْشَتَهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ " ترجمه: د دنيا پهٔ ژوند کښې د هغوئي پهٔ مينځ کښې د هغوئي روزي (هُم) مونږه تقسيم کړې ده۔" نو يقيناً چې تهٔ د حده وه وتلې، ستا نه زيات نادان به څوک وي؟ او که تهٔ د هُغه نعمت ورکړے شوي کَس سره د خپلې حصې پهٔ وجه حَسَد کوې نو بيا خو ډير لوئي بے علمه يې څکه چې الله پاک ستا حصه ستا نه علاوه بل چا له نه ده ورکړې او نهٔ به ستا حصه د هغهٔ طرف ته څي۔ يعني چا له چې يې څهٔ ورکړي دي هغهٔ ته به څي ستا حصه نه څي نو بيا ولې د هغې نه سوزې څهٔ چې الله پاک هغهٔ له ورکړي دي، ولې پهٔ هغې باندې اعتراض کوې؟ (فتوح الغیب (اردو)،ص103 مفہوماً وملخصاً)

## پۀ عيش او ارام سره د ژوند تيرونکي د قيامت پۀ ورځ حال

اے نادانه او کم علمه انسانه! ډير زر به تا ته معلومه شي چې سبا د قيامت پۀ ورځ به د دې نعمتونو پۀ وجه ستا د ګاؤنډي حساب خومره اوږد وي او که هغۀ د الله پاک د دې عطا کړے شوو نعمتونو پۀ وجه د الله پاک فرمانبرداري اونه کړه او د الله پاک حق (يعنې زکوٰة او واجبې صدقې وغيره) يـې ادا نه کړې چې د هغۀ پۀ حکم باندې يـې عمل کړے وے او د دې ډيرو زياتو نعمتونو پۀ وجه يـې د الله پاک نه د هغۀ پۀ عبادت او فرمانبردارۍ باندې د هغۀ مدد غوښتلے وے- تر دې پورې چې هغۀ به د قيامت پۀ ورځ باندې ارمان کوي چې هغۀ ته پۀ دې نعمتونو کښې يوه ذره هم نه وے عطا کړے شوے (مالداره به د دې مال واجب حقونه نه وي اداکړي نو اس به پښيمانه وي چې هغۀ ته پۀ دې نعمتونو کښې يوه ذره هم نه وے ورکړے شوے) او نۀ هغۀ چرې څۀ نعمت ليدلے وے- آيا تا حديثِ پاک نه دے اوريدلے چې حضورِ پر نُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: د قيامت پۀ ورځ چې به کله مصيبت والؤ ته ثواب ورکولے شي نو ارام او سکون والا به ارمان کوي چې کاش! پۀ دُنيا کښې د هغوئي څرمنې پۀ قينچيانو باندې پريکړے شوې وے- (ترمذی،180/4،حديث:2410۔فتوح الغيب(اردو)،ص103،102ملخصاً)

## د قيامت پۀ ورځ د نعمت والا ارمان

زما پير او مرشد، شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: (پۀ نعمتونو کښې لوئي شوے) ستا ګاؤنډي به سبا د قيامت پۀ 50 زره کاله ورځ کښې پۀ سخته ګرمۍ کښې د خپل اوږد حساب د پاره ولاړ وي- هُغه وخت به هغۀ ستا د دُنيا د (وږوکي) کور ارمان کوي څکه چې هغۀ د دُنيا د نعمتونو نه فائده واخستله او تۀ پۀ هُغه ورځ د الله کريم د رحمت او د هغۀ پۀ عنايت د صبر او قناعت د نعمت له وجهې د هغۀ نه بيل د عرش پۀ سيورې کښې خوراک څښاک، نعمتونه موندونکے، خوشحاله يـې- (فتوح الغيب (اردو)،ص103)

اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عاشقانو! د الله پاک پۀ تقسيم باندې راضي کيدل پکار دي، غريب صبر کوي نو د مالداره نه زيات فضيلت بياموي چې فقير به د مالداره نه 500 کاله مخکښې جنَّت ته لاړ شي او مالداره به پۀ حساب کتاب کښې اغختے وي- د غريب سره مال نه وو نو هغۀ به د مال پۀ حساب باندې بچ وي خو چې غريب وي صابر يعنې صبر کوونکے- که چرې غريب د مالدارو سره حَسَد کوي او د دُنيا پۀ مال نه ميلاويدو زړۀ سوزوي نو بيا به هغۀ ته دا فضيلت نه حاصليږي-

حضرت شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: اے د الله پاک بنده! د الله پاک پۀ ليکلے شوي او د هغۀ پۀ فيصله باندې راضي اوسه، چې هغۀ تۀ غريب او بَل مالداره کړو، (اے بيماره!) تۀ يې بيمار کړې او بَل له يې صحت ورکړو، (اے پريشان حاله!) تۀ يې په پريشانئ کښې پۀ سخته کښې او بَل يې پۀ اسانئ کښې وساتلو، ستا پۀ دې ټولو کارونو کښې صبر کول به د عرش د لاندې د حاصليدونکو نعمتونو ذريعه جوړيږي- الله پاک دې مونږه او تاسو پۀ هُغه خلقو کښې کړي څوک چې پۀ مصيبت او پريشانئ کښې د الله پاک پۀ عطا کړے شوو نعمتونو باندې شُکر ادا کوي او خپل ټول کارونه پۀ الله پاک باندې سپاري- (فتوح الغيب، ص103 ملخصاً)

پۀ 24 سيپاره، سورة المؤمِن، آيت نمبر 44 کښې دي:

﴿ وَ اُفَوِّضُ اَمْرِیْۤ اِلَى اللّٰهِؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِیْرٌۢ بِالْعِبَادِ۝۴۴ ﴾"ترجمه: او زۀ خپل کارونه الله ته سپارم، بے شکه الله بندګان وِيني-"

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې لاندې ليکي: دا دُعا پۀ هر مصيبت او د دښمن پۀ مقابله کښې لوستل پکار ده ډيره فائده منده ده- که چرې څۀ مصيبت راشي يا دښمني شي نو دا دُعا لوستل پکار دي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دې برکتونه به درنصيب کيږي- (تفسير نور العرفان، پ 24، المؤمن، تحت الآية:44، ص 753)

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

اپنے دِل کا ہے اُنہیں سے آرام سونپے ہیں اپنے اُنہیں کو سَب کام
لو لگی ہے کہ اب اس دَر کے غلام چارۂ دردِ رضا کرتے ہیں

(حدائق بخشش، ص114)

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورور، شهنشاهِ سُخن مولانا حسن رضا خان حسن رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم څۀ ښکلي فرمائي:

ہماری بگڑی بنی اُن کے اِختیار میں ہے سپرد اُنہیں کے ہیں سب کاروبار ہم بھی ہیں

(ذوقِ نعت، ص188)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دُنيا نه بے رغبتي

زما د پير او مرشد، غوث الاعظم سيدنا محي الدِّين شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خدمت کښې د نيمروز مُلک والي، د سَنجر بادشاه خط راوليږلو چې زۀ د ملک څۀ علاقه د جائيداد پۀ شکل کښې ستاسو پۀ خدمت کښې نذرانه کول غواړم د دې د پاره چې تاسو هم زما پۀ شان د عيش او ارام ژوند تير کړئ- د بادشاهانو بادشاه، زما مرشد حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې پۀ جواب کښې پۀ فارسي ژبه کښې د خلورو شعرونو يوه رُباعي وليکله، د کومې ترجمه چې دا ده:

د سنجر د بادشاه د تور رنګ تاج پۀ شان دې زما قِسمت هم تور شي که زما پۀ زړۀ کښې د سنجر د بادشاهۍ څۀ هوس وي، ځکه چې ما ته د نيمې شپې د دولت (يعنې د نيمې شپې راپاځيدل او د کائنات د خالق او مالک پۀ بارګاه کښې د عبادت کولو) سلطنت حاصل دے، د نيمروز د سلطنت قيمت زما پۀ نظر کښې د وربشې د داني برابر هم نه دے- (اخبار الاخيار، ص 204 ملخصاً)

حُبِّ دُنیاسے تُو بچایارب عاشقِ مُصطفٰے بنا یارب
حِرصِ دنیا نکال دے دل سے بس رہوں طالبِ رضا یارب
(وسائلِ بخشش، ص79)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د شاتو پهٔ شان زهر

اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشقانو! شهنشاهِ بغداد، حضور غوثِ پاک حضرت شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دُنيا رنګيني او سهولتونه دوکه ورکوونکي دي- چا چې دا بياموندل دوکه يې وخوړله او غافله شو- چې کله تهٔ دُنيا د هغې د بدو سره د دنيادارو پهٔ لاسونو کښې وه وينې نو داسې ترينه لرې شه لکه څنګه چې څوک پهٔ قضائے حاجت (ډک اودس ماتي) کولو وه وينې نو د سخا بوئي له وجهې پوزه بند کړې هم داسې تهٔ د دې نه هم خپله پوزه بنده کړه، لکه څنګه چې تهٔ د هٰغه کَس طرف ته د کتلو نه ځان ساتې هم داسې دې ته د کتلو نه هم ځان وساته- د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې خيزونو طرف ته د خواهش او ارمان پهٔ نظر د کتلو نه هم منع فرمائيلې ده- (شرحِ فتوح الغيب (اردو)، ص 76 ملخصاً) الله پاک پهٔ شپاړسمه سيپاره، سورهٔ طٰهٰ، آيت نمبر: 131 کښې ارشاد فرمائي:

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖۤ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ۬ لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ؕ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَّ اَبْقٰى ﴿۱۳۱﴾

ترجمه: او اے اوريدونکيه! مونږه د مخلوق مختلفو ډلو ته چې د دُنيا کومه تر و تازګي د فائدې اوچتولو د پاره ورکړې ده د پاره د دې چې مونږه پهٔ دې باره کښې د هغوئي ازميښت وکړو نو د هغې طرف ته خپلې

سترګي مۀ غزوه، او ستا د رَبّ رزق د ټولو نه ښه او د ټولو نه زيات باقي پاتې کيدونکے دے۔

دُنیا کو تُو کیا جانے یہ بِس کی گانٹھ ہے حرافہ صورت دیکھو ظالم کی تو کیسی بھولی بھالی ہے
شہد دکھائے زہر پلائے، قاتل، ڈائن، شوہر کش
اس مردار پہ کیا للچایا دُنیا دیکھی بھالی ہے (حدائقِ بخشش، ص 186)

شرحِ کلامِ رضا: اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د دُنيا مکر او فريب بيانوي او فرمائي: اے د الله بنده! تۀ د دُنيا نه څۀ خبر يـې؟ پۀ شکل او صورت کښې سيدها ساده پۀ نظر راتلونکې دا دُنيا "د زهرو پوټۍ" ده، دا د دوکه بازې زنانه پۀ شان ده، دا داسې ظالمه ده چې زهر د شاتو په صورت کښې ښائي او خوک چې د دې سره محبت کوي نو دا هم خپل عاشق ټچپله وژني، دا دُنيا ډيره خرابه او مُرداره ده، د دې سره د زړۀ لګولو هيڅ فائده نشته، دا ازمائيلے شوې خبره ده۔

عالمِ انقلاب ہے دنیا، چند لمحوں کا خواب ہے دنیا
فخر کیوں دل لگائیں اِس سے، نہیں اچھی خراب ہے دنیا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دُنيا د سُکون او راحت ځائے نه دے

د سلسلۀ قادريه رضويه عطاريه عظيم تابعي بزرګ، د اهلِ بيتِ اطهار د سترګو تور، حضرت امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: کوم کَس چې د داسې څيز خواهش وکړي کوم چې هډو پيدا شوے نه وي هغۀ خپل ځان ستړے کوونکے کَس دے۔ د حضرت امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پۀ خدمت کښې عرض وکړے شو: حضور هغه څۀ څيز دے؟ امام جعفر صادق رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه وفرمائيل: پۀ دُنيا کښې ارام او سکون غوښتل۔

د سلسلۀ قادريه رضويه عطاريه عظيم بُزرګ حضرت جنيدِ بغدادي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما د ځان د پاره يو اُصول جوړ کړے دے د کوم له وجهې چې زۀ خوشحاله يم او هُغه اُصول دا دے چې دُنيا د فتنې او مصيبت ځائے دے او پۀ دې کښې چې کوم غم او مصيبت هم رسي دا د دې (غم او مصيبت) ځائے دے۔

حضرت ابو تُراب نَخشَبِي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: خلق پۀ دُنيا کښې دوه څيزونه غواړي خو هغوئي يـې حاصلولے نشي او هُغه دواړه څيزونه سکون او خوشحالي ده او د دې وجود هُم پۀ جنَّت کښې دے۔ (شرح فتوح الغيب (اردو)، ص167ماخوذاً)

اس جہاں میں ہر طرف ہیں مشکلیں
ہر جگہ ہیں آفتیں ہی آفتیں
کچھ گھرے غم میں تو کچھ بیمار ہیں
تو کئی قرضے کے زیرِ بار ہیں
ہیں بہت کم لوگ دنیا میں سُکھی
اکثر افراد اِس جہاں میں ہیں دُکھی
مت لگا تُو دل یہاں پچھتائے گا
کس طرح جنّت میں بھائی جائے گا؟
لندن و پیرِس کے سپنے چھوڑ دے
بس مدینے ہی سے رِشتہ جوڑ لے
دل سے دنیا کی محبّت دور کر
دل نبی کے عشق سے معمور کر
اشک مت دنیا کے غم میں تُو بہا
ہاں نبی کے غم میں خوب آنسو بہا
(وسائلِ بخشش، ص709،710ملتقطاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قناعت ترغيب

زما پير او مُرشِد، حضور غوثِ پاک شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: پۀ لږ رزق باندې خوشحاله اوسه او دا لازمي اونيسه تر دې پورې چې ستا وخت پوره شي او بيا تا د دې نه د بهتر طرفته وګرځولے شي او تا ته معلومه شي چې د نۀ غوښتلو سره به ستا

حصه ختمه نشي او کومه حصه چې ستا نۀ ده هغه به د حرص له وجهې ستا نۀ نصيب کيږي پۀ کوم حال باندې چې تۀ الله پاک ساتلے يې پۀ هغې کښې خوشحاله اوسه او د الله پاک پۀ رضا باندې راضي شه- (فتوح الغيب(اردو)، ص62-63ملخصاً)

## د نيکۍ دروازه غنيمت وګڼه

د غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د نيکه بابا جان، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د چا د پاره چې د خير دروازه برسيره کړے شي نو هغۀ له پکار دي چې هغۀ غنيمت وګڼي ځکه چې هغۀ ته دا نه ده معلومه چې دروازه به کله بنديږي-

(الزهد لابن المبارک، ص38، حديث:117)

زما مُرشِد حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: (اے خلقو!) تر څو پورې چې د ژوند دروازه برسيره ده دا غنيمت وګڼئ ځکه چې ډيره زر دا دروازه بنديدونکې ده، څومره نيکۍ چې کول غواړئ وکړئ او د توبې دروازه هم غنيمت وګڼئ او دې ته داخل شئ يعنې توبه وکړئ- د نيکانو خلقو اجتماعات هم غنيمت وګڼئ- (الفتح الربانی، ص29)

سونے والے ربّ کو راضی کر کے سو　　　　کیا خبر اُٹھے نہ اُٹھے صُبح کو

## خدمت وکړه، خدمت به دې وکړے شي

زما مُرشِد حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: (اے خلقو!) د الله پاک فرمانبرداري وکړئ، ستاسو اطاعت به وکړے شي، د الله پاک پۀ رضا باندې راضي شئ، د تقدير د فيصلې پۀ وړاندې سر ټيټ کړئ، دا به ستاسو مخې ته راټيټ شي او خادم به جوړ شي- آيا تاسو نه دي اوريدلي چې څۀ ګرې هغه به ريبې- الله پاک پۀ خپلو بندګانو باندې د ذرې برابر ظلم هُم نه کوي بلکې الله پاک پۀ کم عمل باندې

ډير زيات عطا کوي- چې تهٔ د الله پاک اطاعت او فرمانبرداري کوې نو پهٔ مخلوق کښې به مخدوم (يعنې د چا چې خدمت وکړے شي) جوړ کړے شې- (الفتح الربانی، ص44 ملخصاً) شايد چې هم د داسې موقعې د پاره ډاکټر اقبال وئيلي دي:

خُودی کو کر بلند اتنا کہ ہر تقدیر سے پہلے

خدا بندے سے خود پوچھے بتا تیری رضا کیا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دُعاګانې کوئ

اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشقانو! زما پير او مُرشِد، شهنشاهِ بغداد حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ولِي کامِل بلکې د وليانو اِمام او د اولياؤ سردار دے- زما پير او مُرشِد غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل وخت مفتيِ اعظم او زبردسته واعظ او مبلغ (يعنې بيان کولو والا) بهترين ناصح (يعنې نصيحت کولو والا) وو- د قرآن او د حديث پهٔ رڼا کښې به د هغوئي بيانونه دومره اثرناکه وو چې د خلقو قِسمتونه به يې بدلول، ځومره خلقو به ايمان راوړلو او ګنهګارانو به توبه کوله او د نيکئ لاره به يې اختياروله، د هغوئي پهٔ اجتماع کښې به اويا اويا زره خلق ناست وو او خلقو به پهٔ توجه سره بيان اوريدلو- زما پير او مُرشِد د دُعا پهٔ باره کښې هم ښکلي ښکلي مَدَني ګلونه ارشاد کړي دي:

## دُعا ضرور کوئ

شهنشاهِ بغداد، حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (اے انسانه!) داسې مهٔ وايه چې زهٔ به د الله پاک نه دُعا نه غواړم که چرې زما پهٔ قِسمت کښې وي ميلاؤ به شي که زهٔ يې غواړم او که نه غواړم، بلکې پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت کښې تا ته د کوم کوم خير او برکت ضرورت دے د الله پاک پهٔ بارګاه کښې د هغې پهٔ

باره کښې سوال کوه د ناجائزه او د ګناهونو نه د ډکې دُعا نه علاوه، ځکه چې الله پاک د دُعا کولو حکم په قرآنِ کريم کښې ارشاد کړے دے لکه څنګه چې په 24 سيپاره سورة المؤمِن آيت نمبر 60 کښې ارشاد دے:﴿ اُدْعُوْنِیْۤ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ﴾ ترجمه: زما نه دُعا وغواړئ زه به ستاسو دُعا قبلووم- او په 5 سيپاره، سورة النِّسآء، آيت نمبر 32 کښې ارشاد دے:﴿ وَسْــٴَـلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ ﴾ ترجمه: او د الله نه د هغهٔ فضل وغواړئ-

(فتوح الغيب(اردو)، ص154 ملخصاً)

ہے تیرا فرماں اُدْعُوْنِیْ ہے یہ دُعا ہو قبر نہ سُونی
جلوۂ یار سے اِس کو بسانا یااللہ مری جھولی بھر دے

(وسائلِ بخشش، ص122)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په حديثِ پاک کښې د دُعا ترغيب

د الله کريم خوږ آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: د الله پاک نه د قبليدو د يقين سره دُعا غواړئ- (ترمذی،5/292،حدیث:3490)

شيخِ محقق، حضرت علّامه عبدُ الحق محدثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دُعا داسې پکار ده چې د هغې په قبليدو کښې شَک نه وي بلکې يقين وي ځکه چې د يقين سره دُعا کول د قبليدو اثر لري- (شرحِ فتوح الغيب(اُردو)، ص 462 ملخصاً) د شک شُبې سره نهٔ چې ګورم چې دُعا قلبيږي او که نهٔ، بلکې چې کله هم دُعا کوئ نو په دې يقين سره يې کوئ چې الله پاک به يې قبلوي-

## د دُعا کولو فائده

زما پير او مُرشِد حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِرِ جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (اے

انسانه!) د الله پاک پهٔ بارګاه کښې دا عرض مهٔ کوه چې زهٔ د الله پاک نه سوال کووم او هغهٔ به يې نه قبلوي بلکې (د قبليدو او نهٔ قبليدو خيال د زړهٔ نه اوباسه او) هميشه د الله پاک پهٔ بارګاه کښې دُعاګانې کوه ځکه چې خهٔ تا غوښتلي دي که هغه ستا پهٔ قِسمت کښې وي نو هغه به ستا د دُعا نه پس ستا طرف ته در روانولے شي او داسې به ستا يقين نور هم مضبوطوي او که ستا پهٔ دُعا کښې غوښتلے شوے څيز ستا پهٔ قِسمت کښې نه وي نو ستا پام به د هغې نه بدل کړے شي او که پهٔ تا باندې د چا قرض وي (او تهٔ دُعا وکړې) نو الله پاک به د قرض واپس اخستونکي زړهٔ ستا د طرف نه واړوي چې هغهٔ به تا ته خپل قرض معاف يا کم کړي يا دا چې هغهٔ به پهٔ سخته لهجه کښې د قرض غوښتلو پهٔ ځائے پهٔ نرمۍ يا وروستو او پهٔ اسانۍ سره د ورکولو غوښتنه کوي تر دې پورې چې تا ته به اساني شي او که هغهٔ پهٔ دُنيا کښې ستا قرض معاف يا کم نه کړي نو الله پاک به ستا د هغې دُعا د کومې اثر چې پهٔ دُنيا کښې ظاهر شوے نه وو تا ته به د قيامت پهٔ ورځ د هغې پهٔ بدله کښې عظيم الشان ثواب عطا کړي ځکه چې هغهٔ ډير د کرم والا، غني او رحم کوونکے دے- د هغهٔ پهٔ پاکه بارګاه کښې چې څوک هم سوال کوي الله پاک هغهٔ خالي لاسونه نه ليږي ځکه ستا دُعا پهٔ دُنيا يا پهٔ اخرت کښې ستا د پاره څهٔ نا څهٔ فائده ضرور ده- (شرح فتوح الغيب(اردو)، ص 460-461 ملخصاً) يعني دُعا نهٔ ضائع کيږي، د دُعا فائدې ضرور حاصليږي-

میں ہوں بندہ تُو ہے مولیٰ  تُو ہے قادِر میں ناکارہ
میں منگتا تُو دینے والا  یااللہ مری جھولی بھر دے

(وسائلِ بخشش، ص 122)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دُعا پهٔ بدل کښې د قيامت پهٔ ورځ نيکۍ

پهٔ يو روايت کښې دي: مسلمان به د قيامت پهٔ ورځ پهٔ خپله اعمال نامه کښې داسې نيکۍ وه ويني کومې چې به هغهٔ پهٔ دُنيا کښې نه وي کړې او نه به ورته د هغې پهٔ باره کښې معلومات وي نو هغهٔ ته به وه وئيلے شي چې دا ستا د دُعا ثواب دے کومه چې تا پهٔ دُنيا کښې کړې وه- (شرح فتوح الغيب (اردو)، ص 155)

## د دُعا پهٔ قبليدو کښې د وخت لګيدل

حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ارشاد فرمائي: اے د خدائے بنده! تهٔ د دُعا پهٔ قبليدو کښې د وخت لګيدو پهٔ وجه د خپل رَبِّ کريم نه خفه کيږې، تهٔ وائې چې اللّٰه پاک د خلقو نه د غوښتلو نه منع فرمائيلې ده او پهٔ خپله بارګاه کښې يــې دُعا کول لازمي ګرځ ولې دي او زهٔ د هغهٔ پهٔ بارګاه کښې سوالونه کووم خو زما دُعا نهٔ قبليږي، تهٔ داسې مهٔ وايه- اے نادان انسانه! که تا ته وه وئيلے شي چې تهٔ ازاد يــې که غلام (يعنې د اللّٰه پاک د احکاماتو پابند يــې که د هغې نه ازاد يــې)؟ که چرې تهٔ وه وائې چې زهٔ ازاد يم نو تهٔ کافر يــې (ځکه چې تا د اللّٰه پاک د احکاماتو نه د بيزارئ اظهار کړے دے) او که تهٔ وه وائې چې زهٔ غلام بنده (يعنې پابند) يم نو بيا به تا ته وئيلے شي چې د دُعا د قبليدو پهٔ اثر نه ظاهريدلو يا پهٔ دې کښې د ناوخته کيدو پهٔ وجه پهٔ خپل خالق او مالک اللّٰه پاک باندې الزام لګوې چې هغهٔ زما دُعا نه اورې که چرې تا دا خيال نه کولے او د دُعا د قبليدو اثر نه ظاهريدل دې د اللّٰه پاک حکمت او مصلحت ګڼلے نو پهٔ تا باندې د اللّٰه پاک شُکر ادا کول لازم دي ځکه چې هغهٔ ستا د پاره پهٔ دُعا کښې د غوښتلے شوي څيز نه بهتر څيز، نعمت (يعنې پهٔ اخرت کښې د ثواب) اراده فرمائيلې ده- (فتوح الغيب(اردو)، ص151تا152)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اللّٰه پاک زما دُعا نهٔ اورې يا قبلوي يــې نهٔ وغيره وئيل نه دي

پکار بلکې بنده دې سوچ وکړي چې الله پاک ما ته څومره احکامات راکړي دي چې فلانکے کار وکړه او فلانکے کار مهٔ کوه، زهٔ د الله پاک څومره خبرې منم؟ پهٔ کوم يو حکم باندې عمل کووم؟ د پوهه کولو د پاره مثال درکووم يعنې که مونږ د هغهٔ خبره نه منو او هغهٔ زمونږه خبره نه پوره کوي نو مونږ د هغهٔ نه ګيله، شکايت کوو چې هغهٔ زمونږه خبره نهٔ اوري- الله پاک سميع او بصير دے يعنې اوري او ويني- هغهٔ وعده کړې ده چې ﴿ اُدْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ ﴾(پ 24، المؤمن: 60) يعنې او زما نه دُعا وغواړئ زهٔ به ستاسو دُعا قبلووم- البته د دُعا د قبليدو څهٔ صورتونه د غوثِ پاک رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه د ارشاداتو پهٔ رڼا کښې بره بيان شول- ګنې د دُعا د قبليدو ثواب به د قيامت د ورځې د پاره ذخيره وي کوم چې في الحال پهٔ مونږ باندې ظاهر نه دے اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د قيامت پهٔ ورځ به يې وينو-

## د الله پاک نه څهٔ دُعا کول پکار دي

زما مُرشِد غوثِ پاک شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه فرمائي: د الله پاک نه د خپلو تيرو ګناهونو د معافۍ، د راتلونکي وخت کښې د ګناهونو نه د بچ کيدو، پهٔ ښه طريقه د هغهٔ د عبادت کولو، د ښه مرګ او د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام، صِدِّيقينو، شهيدانو او د نيکانو بندګانو سره د ملاقات دُعاګانې کوئ، دا څومره نيکان بندګان دي- (فتوح الغيب، ص 154) يعنې چې زهٔ د قيامت پهٔ ورځ د دوئي سره راپاڅم، زما د دوئي سره ملاقات وشي او زما د دوئي برکتونه نصيب شي دا دُعاګانې هم کوئ-

میں گناہوں میں لتھڑا ہوا ہوں
بد سے بدتر ہوں بگڑا ہوا ہوں

عفوِ جُرم و قصور و خطا کی
میرے مولیٰ تو خیرات دیدے

ہو کرم از طفیلِ مدینہ
میں نہ ہر گز پھروں کرکے توبہ

عفوِ جُرم و قُصور و خطا کی
میرے مولیٰ تو خیرات دیدے

مکرِ شیطان سے تو بچانا
ساتھ ایماں کے مجھ کو اٹھانا

نزع میں دیدِ بدرُ الدُّجٰے کی
میرے مولیٰ تو خیرات دیدے

از پئے غوثِ اعظم ولایت
اپنی رحمت سے فرما عنایت

اپنی، اپنے نبی کی وِلا کی
میرے مولیٰ تو خیرات دیدے

(وسائلِ بخشش، ص 126، 127، 128ملتقطاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مکتبة المدينه کتاب "فضائلِ دُعا"

د دُعا پۀ باره کښې د ډيرو اهمو معلوماتو حاصلولو د پاره د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د والد صاحب حضرت علامه مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه کتاب "اَحسَنُ الوِعَا لِآدابِ الدُعا" د کوم اُردو ترجمه چې د "فضائلِ دُعا" پۀ نوم سره مکتبة المدينه چاپ کړے دے دا ولولئ- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ستاسو پۀ معلوماتو کښې به ډيره اضافه وشي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اخرت اصل دے او دُنيا د دې نفع

اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه عاشقانو! هر کاروبار کوونکے خپل رأس المال (يعني اصلي سرمايه) استعمالوي او ګټه کوي، آيا تاسو داسې کَس ليدلے دے څوک چې د خپل اصلي مال حفاظت نه کوي بلکې صرف هُم پۀ ګټه باندې خوشحاله وي؟ هيڅ څوک پوهه انسان هُم داسې نه کوي بلکې د ټولو نظر پۀ اصل مال باندې وي چې پۀ دې کښې کمے نه دے پکار چې که اصلي مال ختم شو نو ګټه به د چرته نه راځي؟ ځکه چې ګټه هم د اصلي مال پۀ وجه باندې کيږي-

اوس لر پهٔ غور باندې ولولئ چې " د يو مسلمان رأسُ المال (يعني اصلي سرمايه) او ګټه څهٔ پکار ده؟ پهٔ دې باره کښې زما مُرشِد، شهنشاهِ بغداد، حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: (اے انسانه!) خپل اخرت اصلي مال او دُنيا د دې ګټه جوړه کړه چې اخرت (رأس المال) دے او دُنيا ګټه ده- وړومبے د اخرت حاصلول د پاره خپل وخت ولګوه او بيا که څهٔ وخت پاتې شي نو پهٔ خپله دُنيا کښې يـې د ګټې وټې (وغيره) پهٔ لټولو کښې ولګوه- خپله دُنيا اصلي مال او اخرت د دې ګټه مهٔ جوړوه هغه داسې که چرې څهٔ وخت پاتې شي نو د اخرت د پاره يـې ولګوه چې د خامئ او کوتاهئ سره زر زر پينځه نـمونځونه ادا کړې يا دُنيا وګټې او ستړے شي او تهٔ د نـمونځ ادا کولو پهٔ ځائے د مړي پهٔ شان د شپې اوده شې- (شرح فتوح الغيب(اردو)، ص290 ملخصاً)

سُبْحٰنَ الله! زما مرشد غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډير پهٔ ښه طريقه پوهه کړې يو، مولانا رومي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي:

زندگی آمد برائے بندگی — زندگی بے بندگی شرمندگی

"يعني مونږ ته ژوند ميلاؤ شوے هم د رَبِّ کريم د عبادت او بندګۍ د پاره دے-" د قرآنِ کريم نه د دې شعر تائيد کيږي:

﴿ وَ مَا خَلَقۡتُ الۡجِنَّ وَ الۡاِنۡسَ اِلَّا لِيَعۡبُدُوۡنِ ﴿۵۶﴾ ﴾ (پ27، الذّٰريٰت:56) ترجمه: او ما پيريان او انسانان هُم د دې د پاره پيدا کړي دي چې زما عبادت کوي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! ژوند د مال او دولت د جمع کولو د پاره نهٔ دے ميلاؤ شوے بلکې ژوند د عبادت د پاره ميلاؤ شوے دے که د عبادت نه دې بغير ژوند تير کړو نو د قيامت پهٔ ورځ به د شرم سره مخ يـې، بيا به هيڅ لاس ته نه راځي- چا چې دُنيا رأس المال جوړ کړو نو د هغهٔ رأس المال پهٔ دُنيا کښې ختم شو- خو پهٔ حقيقت کښې اخرت اصلي سرمايه وه، سرمايه بچ کول يـې هيره شوه-

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحمَۃُاللہِعَلَیْہ مونږ ته نصيحت کوي او فرمائي:

دن لہو میں کھونا تجھے شب صبح تک سونا تجھے — شرمِ نبی خوفِ خدا یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں
رزقِ خدا کھایا کیا فرمانِ حق ٹالا کیا — شکرِ کرم ترسِ سزا یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں

(حدائقِ بخشش، ص111)

شرحِ کلامِ رضا: اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحمَۃُاللہِعَلَیْہ پۀ دنيائي کارونو کښې انختي دنيادار ته فرمائي: اے نادانه تۀ د الله پاک د عبادت نه مخ اړوې او ټوله ورځ پۀ لوبو ټوقو کښې تيروې او د شپې هم خدائے نه يادوې بلکې تر سحره پورې پۀ کټ کښې اوده پروت يـې، آيا تا له خپل خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د قيامت پۀ ورځ د مخامخ کيدلو نه شرم نۀ درځي او آيا تۀ د الله پاک نه هم نۀ ويريږې؟ تۀ د الله پاک عطا کړے شوے رزق خورې او بيا هم د هغۀ فرمانبرداري نۀ کوې، د الله پاک پۀ تا باندې دومره احسانونه دي تۀ د دې احسانونو پۀ شُکر کښې د الله پاک د اطاعت او فرمانبردارۍ طرف ته ولې نۀ راځې او نۀ د هغۀ د عذاب نه ويريږې، نۀ د اطاعت طرف ته راځې؟ تۀ خومره نادانه، غافله او ناشُکره يـې۔

پۀ وسائلِ بخشش کښې دي:

بے وفا دنیا پہ مت کر اعتبار — تُو اچانک موت کا ہو گا شکار
کام مال و زر نہیں کچھ آئے گا — غافل انساں یاد رکھ پچھتائے گا
کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی — قبر میں ورنہ سزا ہو گی کڑی

(وسائلِ بخشش، ص 711،712)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نیکۍ لاره اختیار کړه

زما پیر او مُرشِد حُضُورِ غوثِ اعظم شیخ عبدُ القادِر جیلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: اے نادان انسانه! تا ته حکم شوے دے چې ته ځان د سلامتیا په لاره روان کړه او د سلامتیا لارې د اخرت او د الله پاک د عبادت لارې دي، تا د نفس او د شیطان په خواهشاتو باندې عمل وکړو نو ستا نه د دُنیا او د اخرت خیر لاړو بیا به ته د قیامت په ورځ د نیکو په معامله کښې د ټولو نه ډیر غریب یـې، اخرت خپل اصلي مال جوړ کړه نو ته به ترینه په دُنیا او اخرت کښې فائده حاصله کړې- د الله پاک خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: الله پاک د اخرت په نیت باندې دُنیا عطا کوي خو د دُنیا په نیت باندې د اخرت عطا کولو نه انکار کوي-

(الزھد لابن مبارک، ص193، حدیث:549)

## دا جهان ستا د پاره دے او ته د الله پاک د پاره یـې

حضورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ارشاد فرمائي: الله پاک په خپل یو نازل کړے شوي کتاب کښې فرمائیلي دي: اے ابنِ آدمه (یعني اے انسانه)! زۀ الله یم، زما نه علاوه څوک هم د عبادت لائق نشته، زۀ چې څۀ څیز ته "کُن" (یعني وشه) وفرمایم نو هغه وشي ته زما فرمانبرداري کوه زۀ به تا داسې کړم چې ته به وائې: "وشه" نو هغه څیز به وشي او اوئې فرمائیل: اے دُنیا! څوک چې زما اطاعت او فرمانبرداري کوي ته د هغۀ خدمت کوه او څوک چې ستا خدمت کوي ته هغۀ په غم او مصیبت کښې ساته-

(فتوح الغیب (اردو)، ص44 ملخصاً)

جانور پیدا ہوئے تیری وفا کے واسطے
چاند سورج اور ستارے تیری ضیا کے واسطے
کھیتیاں سرسبز ہیں تیری غذا کے واسطے
سب جہاں تیرے لئے ہے اور تُو خُدا کے واسطے

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب!     صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د الله پاک د رحمت ګاؤنډ

حُضُورِ غوثِ اعظم شیخ عبدُ القادِر جیلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: چې کله تهٔ د دُنیا نه بے رغبته شې او د الله پاک اطاعت او فرمانبرداري کوې نو تهٔ به د الله پاک پهٔ نیکانو بندګانو او محبت کوونکو کښې شې او ستا به جنَّت او د الله پاک د رحمت ګاؤنډ نصیب شي، دُنیا به ستا خدمت کوي او ستا چې څومره د دُنیا حصه ده الله پاک به هغه پوره پوره درعطا کړي ځکه چې هر څیز د خپل پیدا کوونکي پهٔ اختیار کښې دے او که تهٔ د اخرت نه مخ واړوې او پهٔ دُنیا کښې مشغول شې نو الله پاک به ستا نه ناراضه شي، دُنیا به ستا نافرماني کوي او ستا څومره حصه چې پهٔ دُنیا کښې ده دُنیا به یې تا ته پهٔ در رسولو کښې تا پهٔ سختۍ کښې اخته کوي ځکه چې هغه د الله پاک مِلک او خادمه ده او څوک چې د الله پاک فرمانبرداره وي دا د هغهٔ عزت کوي- (فتوح الغیب(اردو)، ص96تا97 ملخصاً)

## د دُنیا او د اخرت مثال

د مسلمانانو څلورم خلیفه، حضرت مولیٰ علي المرتضیٰ، شیرِ خُدا رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: د دُنیا او د اخرت مثال د مشرق او مغرب پهٔ شان دے، تهٔ چې پهٔ دې دواړو کښې یو ته څومره هم نزدې کیږې نو دومره به د دویم نه لرې کیږې یا د دې مثال د دوو بَنو پهٔ شان دے، تهٔ چې پهٔ هغې کښې یوه خوشحالوې نو دویمه به خفه کیږي- (میزان العمل للغزالی، ص 46) د چا چې دوه ښځې وي نو دواړه ښځې د یوې بلې بَن بللے شي-

## دُنیا والا یا اخرت والا

الله کریم د قرآنِ عظیم پهٔ 4 سیپاره سورهٔ آلِ عمران، آیت 152 کښې ارشاد فرمائي: ﴿

مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ﴾ ترجمه: پهٔ تاسو کښې ځوک د دُنیا طلبګار دے او پهٔ تاسو کښې ځوک د اخرت طلبګار دے۔

زما مُرشِد غوثِ پاک رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: وئيلے کيږي: ''دُنيا والا او اخرت والا''، تهٔ وګوره چې تهٔ پهٔ کومو کښې يې؟ او د دُنيا پهٔ ژوند کښې د کومې ډلې سره کيدل نهٔ خوښوې بيا چې تهٔ کله د اخرت طرف ته رجوع وکړې نو يوه ډله به پهٔ جنَّت کښې او بَله به پهٔ دوزخ کښې وي يوه ډله به د حساب د اوږدوالي له وجهې د 50 زره کاله د هٰغې يوې ورځې د قيامت پهٔ ميدان کښې ولاړه وي ځکه چې د قيامت يوه ورځ 50 زره کاله ده، يوه ډله به د عرش پهٔ سوري کښې پهٔ دسترخوان باندې وي پهٔ کوم باندې چې به ښه ښه خوراکونه، ميوې او د واورې نه زيات سپين شات وي، هغوئي به د خپلو اوسيدو ځايونو ته ګوري تر دې پورې چې کله مخلوق د حساب او کتاب نه فارغ شي دا خلق به جنَّت ته داخل شي او د خپلو کورونو طرف ته به ځي۔ (فتوح الغیب(مترجم)، ص97۔ شرح فتوح الغیب(اردو)، ص291 ملخصاً)

اوس وګوره چې تهٔ پهٔ کوم کښې يې، پهٔ دُنيا والؤ کښې که پهٔ اخرت والؤ کښې۔ اللّٰه پاک دې مونږ پهٔ اخرت والؤ کښې کړي! ياد ساتئ چې د اخرت والا کيدلو دا مطلب نه دے چې انسان مور پلار د کور نه اوباسي، ښځې بچې رخصت کړي بلکې مطلب دا دے چې د دوئي سره دې اوسيږي خو چې نظر يې په اخرت وي او خپل ژوند تيروي۔ تجارت، نوکري دې کوي خو ورسره نمونځونه او نور عبادتونه هم کوي او د هرې ګناه نه ځان بچ ساتي پهٔ دُنيا کښې اوسيږي او د اخرت پابندي کوي، د سُنَّت مطابق ژوند تيروي نو داسې کَس د اخرت والا دے۔ چې صرف د دُنيا ګټلو خيال وي چې

کہاں کا حرام اور کہاں کا حلال جو صاحب کھلائے وہ چٹ کیجئے

د سود او د رشوت، غلا او ډاکې، ټګۍ وغيره، غرض دا چې پهٔ کومه حرامه طريقه هم

راځي نو راځي دي، دا خرابه دُنیا ده۔
د دُنیا جائز محبت پهٔ کوم کښې چې حلال مال جمع کول وي د ګناه کار نه دے خو د دې ډاډګیرنه نشته ځکه چې دا مال پهٔ جال کښې راګیرول کوي، کیدے شي چې دا مال دا پهٔ راښکلو د غفلت طرف ته بوځي، د عبادت او نیکو نه يې لرې کړي۔ ډیر ځل داسې کیږي هم۔ نور دا چې پهٔ حلال مال باندې به د قیامت حساب ډیر سخت وي چې د کوم ځائے نه دې حاصل کړو، څنګه دې حاصل کړو، پهٔ کوم کوم ځائے کښې دې ولګولو؟ د دې جواب ورکول اسان کار نه دے او پهٔ حرام مال باندې سزا ده۔

تو بے حساب بخش کہ ہیں بے شمار جرم　　　دیتا ہوں واسطہ تجھے شاہِ حجاز کا
(ذوقِ نعت، ص 18)

## دُنیا د اخرت پټے دے

انسان به د قیامت پهٔ ورځ نیکۍ او ګناه رایادوي څهٔ چې يې پهٔ دُنیا کښې کړې وي نو هلته به هُغه وخت پهٔ دې باندې شرمیدل هیڅ فائده نه ورکوي، د مرګ نه مخکښې پهٔ مرګ یادولو کښې بے شکه چې فائده ده، د فصل ریبولو پهٔ وخت، فصل او تخم یادول فائده مند نه دي، لکه څنګه چې حدیثِ پاک دے: "اَلدُّنْيَا مَزْرَعَةُ الْآخِرَةِ" یعنې دُنیا د اخرت پټے دے، ځکه چې دلته څهٔ کرې هم هُغه شان به پهٔ اخرت کښې ریبې۔ کوم کَس چې دلته ښه فصل وکرې یعنې نیک کار وکړې نیکۍ وکړې هغهٔ به د رشک قابل وي او څوک چې ګناه کوي پهٔ اخرت کښې به د شرم سره مخ وي چې نیکۍ کوونکے به د نیکو فصل ریبې، هغهٔ ته به ښه صِله میلاؤیږي او څوک چې خراب فصلونه (ګناهونه) کَري نو هغهٔ به پهٔ اخرت کښې د عذابونو فصلونه ریبي۔ او چې کله مرګ تاسو ته مخامخ وي که هُغه وخت تهٔ رابیدار شې نو څهٔ فائده؟ (الفتح الربانی، ص30 ملخصاً)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** زمونږ د وفات شوي پهٔ باره کښې دلته وئیلے کیږي چې هغهٔ سترګې پټې کړې حقیقت دا دے چې سترګې نه پټیږي بلکې د مرګ سره سترګې غړیږي، د مرګ نه پس چې د انسان سره څهٔ کیږي، هغهٔ هٰغه هر څهٔ ویني، خو څهٔ کولے نشي۔

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه شهزاده، حضور مفتيِ اعظم هند مولانا مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِعَلَيْه په خاص طور ځوانانو ته رغبت ورکوي او خپلې ځوانۍ ته وائي:

ریاضت کے یہی دن ہیں بڑھاپے میں کہاں ہمت
جو کچھ کرنا ہے اب کرلوا بھی نُوری جَواں تم ہو
(سامانِ بخشش، ص 159)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## چې څنګه شان هُم هٰغسې ازمیښت

سيدي و مرشدي حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جیلاني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: الله پاک خپل مؤمِن بنده همیشه د هغهٔ د ایمان د قوت مطابق ازمائي نو د چا ایمان چې زیات مضبوط وي نو پهٔ هغهٔ باندې ازمیښت هم زیات وي، د نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: ''اَنَّا مَعَاشِرُ الْاَنْبِيَاءِ اَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً زمونږه د انبیاؤ د ډلې ازمیښت د ټولو خلقو نه زیات سخت وي۔'' (الحدیث المختارہ، 246/3، حدیث: 1053 مفہوماً) الله پاک ساداتِ کرام همیشه پهٔ ازمیښت کښې ساتي د پاره د دې چې هغوئي هر وخت پهٔ حضورۍ کښې وي او د بیدارۍ نه غافله نشي! الله پاک ولې د هغوئي سره محبت کوي؟ ځکه چې هغوئي د محبت والا او د الله پاک محبوب (یعني خوښ) دي۔ (فتوح الغیب (اردو)، ص 61 ملخصاً)

**اے د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشقانو!** زما د پیر او د مُرشِد حُضُورِ غوثِ اعظم شیخ عبدُ القادِر جیلاني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پهٔ دې فرمان کښې د غم زپلو، غمژنو، ناقلارو د پاره ډیر د

راحت ذريعه ده، ژوند کښې پهٔ مختلفو موقعو باندې ازميښتونه او تکليفونه راتلل د ګناهونو د معافۍ، د درجو د ترقۍ سبب او د رَب العباد د رحمت د نازليدو سبب کيدے شي- پهٔ حديثِ پاک کښې دي: " الله پاک چې کله د يو قوم سره محبت فرمائي نو هغوئي پهٔ ازميښتونو کښې اخته کوي-" (مسندامام احمد،9/163،حديث:23702 ملتقطاً)

مونږ له پکار دي چې پهٔ هره معامله کښې راضي بَرِضائے مولیٰ (يعنې د الله پاک پهٔ رضا کښې راضي) اوسو- هم په دې کښې د دواړو جهانو خير او بهتري ده- پهٔ يو بَل ځائے کښې حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد فرمائي: پهٔ انسان کښې ډير ګناهونه، خطاګانې او جرمونه دي او پهٔ مختلف قِسمه ګناهونو کښې لوګړن ګس د الله پاک د قُرب (يعنې نزدې والي) صلاحيت نه لري، تر څو پورې چې د ګناهونو د نجاست نه پاک نشي، لکه څنګه چې د بادشاهانو سره د کښيناستو صلاحيت د هغوئي وي څوک چې د نجاستونو بدبوئي او خِيرو نه پاک صفا وي، لهٰذا بلاګانې او مصيبتونه وغيره د ګناهونو کفاره ده او دا ختمونکې دي- لکه څنګه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: " د يوې شپې تبه د يو کال کفاره ده-"
( موسوعة لابن ابي الدنيا،4/ 239،حديث:50۔ فتوح الغيب(اردو)،ص55ملخصاً)

حضرت شيخ عبد الحق محدِّثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بيمارياني ګنهګاران د ګناهونو نه پاکوي او د نيکو درجې اوچتوي، چې کله د تبې موده د بنده د عمر نه زياته شي او ټول ګناهونه ختم کړي نو يقيناً چې د تبې باقي پاتې موده د هٔغه بنده د درجو اوچتيدو سبب جوړيږي- (شرح فتوح الغيب(اردو)،ص177ملخصاً)

زباں پہ شکوۂ رنج واَلَم لایا نہیں کرتے
نبی کے نام لیوا غم سے گھبرایا نہیں کرتے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ”صبر“ د دريو حُروفو پهٔ نسبت سره پهٔ مصيبتونو باندې د صبر درې فضائل

﴾1﴿ الله پاک ارشاد فرمائي: ”چې کله زهٔ خپل يو بنده د هغهٔ د بدن، مال يا اولاد پهٔ ذريعه پهٔ ازميښت کښې واچووم، بيا هغهٔ د صبرِ جميل [1] سره هغې ته هر کلے وه وائي نو د قيامت پهٔ ورځ به ما له حيا راځي چې د هغهٔ د پاره ميزان قائم کړم يا د هغهٔ اعمال نامه برسيره کړم-“ (نوادرالاصول، ص 700، حديث:963)

﴾2﴿ صحابيِ رسول حضرت سَعد بن اَبِي وقاص رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې ما عرض وکړو: ” يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د ټولو نه زيات مصيبتونه پهٔ کومو خلقو باندې راغلل؟“ اوئې فرمائيل: ”پهٔ انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام باندې، بيا د هغوئې نه پس چې کوم خلق بهتر دي، بيا د هغوئې نه پس چې کوم بهتر دي، بنده د هغهٔ د ديندارۍ پهٔ لحاظ سره پهٔ مصيبت کښې اخته کولے شي چې که هغهٔ پهٔ دِين کښې سخت وي نو د هغهٔ ازميښت هم سخت وي او که هغهٔ پهٔ خپل دِين کښې کمزورے وي نو الله پاک د هغهٔ د دِيندارۍ مطابق هغهٔ ازمائي- بنده پهٔ مصيبت کښې اخته کيږي تر دې چې هُم پهٔ دُنيا کښې د هغهٔ ټول ګناهونه اوبخښلے شي-“ (ابن ماجه، 4/369، حديث:4023)

﴾3﴿ صبر د خيرونو پهٔ خزانو کښې يوه خزانه ده- (موسوعه لابن ابي الدنيا، 4/ 24، حديث:16)

ہے صبر تو خزانۂ فِردوس بھائیو! شِکوہ نہ عاشِقوں کی زَبانوں پہ آسکے
(وسائلِ بخشش، ص 412)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] … صبر جميل يعنې د ټولو نه بهترين صبر دا دے چې پهٔ مصيبت کښې اخته کَس شوک اونه پيژني، د هغهٔ پريشاني پهٔ چا باندې ظاهره نشي- (احياء العلوم، 4 / 91)

## د ګناهونو کفّاره

د مسلمانانو د خوږې مور جانې، حضرت بي بي عائشه صِدِّيقه طيّبه طاهره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دے چې کله د بنده ګناهونه ډير زيات شي او د هغهٔ اعمال داسې نه وي کوم چې د هغهٔ د ګناهونو کفاره جوړه شي نو الله پاک بنده پهٔ پريشانو کښې اخته کوي کومې چې د هغهٔ د ګناهونو کفّاره جوړيږي- (قوت القلوب،314/1)

## پهٔ تکليف کښې پهٔ خندا شو

حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې کله فرعون ته د خپلې ښځې حضرت بي بي آسيه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا د مسلمانيدو پته ولګيده نو هغهٔ هغې ته د تکليف رسولو حکم وکړو او د هغې پهٔ دواړو لاسونو او ښپو باندې يې د اوسپنې ميخونه ټک وهل او پهٔ کوړو يې ورته پهٔ سزا ورکولو لاس پورې کړل- حضرت بي بي آسيه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا پهٔ دې حال کښې خپل سر د اسمان طرف ته بره کړو نو اوئې کتل چې د جنَّت دروازې برسيره دي او فرښتې پهٔ جنَّت کښې د هغې د پاره محل جوړوي- حضرت عزرائيل عَلَيْهِ السَّلَام د حضرت بي بي آسيه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا خوا له د رُوح قبض کولو د پاره تشريف راوړلو او هغې ته يې وفرمائيل: پهٔ جنَّت کښې دا محل ستا دے، دا يې چې واوريدل نو حضرت بي بي آسيه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا وخندل نو د هغې نه هُغه جسماني تکليف لرې شو او هغې د الله پاک پهٔ بارګاه کښې عرض وکړو: اے زما پروردګاره! زما د پاره ځان ته نزدې پهٔ جنَّت کښې محل جوړ کړې-

د قرآنِ کريم پهٔ 28 سيپاره سورة التحريم، آيت نمبر 11 کښې ارشاد دے:

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ

بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۱﴾

ترجمه: او الله د مسلمانانو د پاره د فرعون ښځه مثال جوړه کړه، چې کله
هغې عرض وکړو: اے زما ربه! ما لره له خپله طرفه په جنَّت کښې يو
کور جوړ کړې او ما ته د فرعون او د هغهٔ د عمل نه نجات راکړې او ما
ته د ظالـمانو خلقو نه نجات راکړې-

حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (اے انسانه!) تهٔ هم پهٔ خپل مصيبت باندې داسې صبر کوونکے شه څکه چې د الله پاک کوم نعمتونه پهٔ جنَّت کښې دي هغه به تا ته ستا د زړهٔ او د يقين پهٔ سترګو پهٔ نظر راشي او دلته چې کوم مصيبتونه او پريشانی دي، تهٔ به پهٔ هغې باندې صبر کوونکے جوړ شې- (الفتح الربانی، ص133)

## صبر او شُکر کوه

حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (اے د الله پاک بنده!) که چرې ستا پهٔ قِسمت کښې نعمت ميلاويدل وي نو هغه به تا ته ضرور ميلاؤ شي، که تهٔ هغهٔ غواړې او که ستابدې شي ! او که ستا پهٔ قِسمت کښې مصيبت او تکليف دے او ستا د پاره د دې فيصله شوې ده، نو که هغه نهٔ خوښوې يا د هغې نه د بچ کيدو دُعا کوې بيا به هم هُغه مصيبت پهٔ تا باندې راځي- خپلې ټولې معاملې الله پاک ته حواله کړه، که تا ته نعمتونه عطا شي نو شُکر ادا کړه او که پهٔ ازميښت کښې شې نو صبر وکړه-
(قلائد الجواہر مع فتوح الغیب، ص 24)

مشکلوں میں دے صبر کی توفیق　　　اپنے غم میں فقط گھلا یا رب
(وسائلِ بخشش، ص 80)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

زمونږه پير او مُرشِد، حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اے د مُحَمَّد [صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] اُمته! د الله پاک شُکر ادا کړئ چې مخکښينو اُمتونو به چې خومره عمل کولو، الله پاک د هغې په نسبت ستاسو نه په لږ عمل باندې راضي کيږي- جومات لازمي اونيسئ او په نبئ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په کثرت سره درود شريف لولئ- (الفتح الربانی، ص23،24 ملتقطاً)

بچیں بے کار باتوں سے پڑھیں اے کاش کثرت سے
ترے محبوب پر ہر دم دُرودِ پاک ہم مولیٰ
(وسائلِ بخشش، ص99)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د مسلمانانو خير خواهي

په شوَّال المُکَرّم، کال 545 هجرى، د جُمعې ورځ وه، زما مُرشِد پاک حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپله مدرسه کښې د مسلمانانو ورونړو د همدردی په موضوع باندې بيان وکړو، په بيان کښې مرشد وفرمائيل: پاک دے هغه ذات کوم چې زما په زړهٔ کښې د مخلوق خير خواهي (يعنې د خير غوښتلو) جذبه واچوله او د مخلوق سره ښيګړه کول يې زما د ژوند لوئي مقصد جوړ کړو- بے شکه زهٔ تاسو ته نصيحت کوونکے يم، زهٔ په دې باندې ستاسو نه هيڅ جزا نه غواړم، زما خوشحالي په دې کښې ده چې تاسو کامياب شئ! که تاسو برباد شوئ نو زما سره به غم وي- (الفتح الربانی، ص41)

## ډيره رحم دِلي

زما مُرشد غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: اے خلقو! زهٔ ستاسو طرف ته صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره متوجه کيږم يعنې توجو کووم، په ما کښې ستاسو د پاره داسې

رحم دِلي او شفقت دے چې که کيدے شوه نو زۀ به ستاسو پۀ ځائے د هر يو قبر ته کوزيدم او ستاسو د طرف نه به مې نَڪِيرَين يعنې منکر نڪير ته جواب هم پخپله ورکولو! (الفتح الربانی ص، 318)

سُبْحٰنَ اللّٰه! د شفقت څومره ښکلے انداز دے چې که زما پۀ وَس کښې وے نو زۀ به ستاسو پۀ ځائے قبر ته تلم، منکر نڪير به ستاسو نه سوال کولو او ما به جواب ورکولو-

عزيزو کر چکو تيار جب ميرے جنازے کو
تو لکھ دينا کفن پر نام والا غوث اعظم کا
ندا دے گا منادی حشر ميں يوں قادريوں کو
کہاں ہيں قادری کر ليں نظارہ غوث اعظم کا
(قبالۂ بخشش، ص 98،99)

## د اللّٰه پاک د ټولو نه زيات خوښ

زما پير او مُرشِد حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه پۀ 11 جمادي الاخرىٰ 545 هجرى پۀ خپله مدرسه کښې پۀ بيان کښې وفرمائيل: اے مالدارو! که د دُنيا او د اخرت خير غواړئ نو د خپل مال پۀ ذريعه د غريبانانو سره همدردي وکړئ! بيا هغوئي يو حديث بيان کړو: د اللّٰه پاک آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: خلق د اللّٰه پاک عِيَال دے، د اللّٰه پاک زيات خوښ هغۀ دے څوک چې د اللّٰه پاک عِيال ته زياته فائده رسوونڪے وي- (موسوعہ لابن ابی الدنيا، 4/ 159، حديث:24 ۔ الفتح الربانی ص، 111)

حضرت علامه عبد الرّءُوف مناوي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: مخلوق ته د اللّٰه پاک عِيال وئيل مجازاً دي حقيت نه دے، اللّٰه پاک د بندګانو د رزق ضامن او کفيل دے نو مخلوق د عيال پۀ شان شو، پۀ حقيقت کښې اللّٰه پاک د اولاد، خاندان نه پاک دے نو پۀ دې معنو باندې چې اللّٰه پاک د هغوئي ضامن او کفيل دے د ټولو رزق يې پۀ خپل ذمۀ کرم باندې اخستے دے- د عيال نه مُراد دا دے چې مخلوق د اللّٰه پاک محتاج دے او اللّٰه پاک

د دوئي ضرورتونه پوره کوي- نور فرمائي: پۀ ښه سلوک کښې د الله پاک طرف ته هدايت ورکول، تعليم ورکول، مهرباني کول، رحم کول، پۀ هغوئي باندې خرچ کول وغيره پۀ دِيني او دُنيائي خيرونو کښې شامل دي- د آقا پۀ خپلو بندګانو باندې احسان کول ښه ښکاري- پۀ دې حديث کښې د مخلوق ضرورتونه پوره کول او عِلم، مال، عزت، جائز شفارش وغيره څۀ چې اسان ښکاري د هغې پۀ ذريعه د فائدې رسولو فضيلت موجود دے- خلقو ته د نيکۍ دعوت ورکول، د الله پاک د لارې طرف ته رابلل، عِلمِ دِين زده کول، د خلقو سره د نرمۍ سلوک کول، پۀ خلقو باندې رحم کول، شفقت کول، پۀ هغوئي باندې مال لګول، غرض دا چې (پۀ شريعت کښې دننه) د دِين يا د دُنيا پۀ څۀ معامله کښې د خلقو سره نيکي کول، ښيګړه کول، دا هر څۀ خلقو ته پۀ فائده رسولو کښې شامل دي- (فيض القدير، 3/ 674، تحت الحديث:4135 ملخصاً)

مسلماں مسلمان کے خوں کا پیاسا
ہوا وقت آیا عجب یاالٰہی
سبھی ایک ہو جائیں ایمان والے
پئے شاہِ عالی نَسب یاالٰہی
(وسائلِ بخشش، ص 108)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ هر حال کښې شُکر

زما مرشدِ پاک، شهنشاهِ بغداد حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زما وصيت دے چې د الله کريم د طرف نه د راغلي ازميښت چا ته هم ذِکر مۀ کوه، که هغۀ ستا دوست وي او که دښمن، بلکې پۀ هغې شُکر ادا کړه، ځوک دے د چا سره چې د الله پاک څۀ نعمت نه وي- ستاسو سره داسې ځومره نعمتونه دي د کومو چې تاسو ته هم عِلم نشته، که تۀ د عافيت او د ځان سره د نعمت د موجودتيا باوجود نور

غوارې ځکه به مخکښیني نعمتونه قصداً عمداً هیر کړې یا به یې کم وګڼې او د خپل رَبّ نه به شکایت وکړې نو هغۀ به ستا سره د مخکښې نه موجود نعمت ستا نه لرې کړي او ستا دا شکایت به صحیح کړي او ستا پریشاني به یو پۀ دوه کړي او ستا نه به ناراضه شي ځکه تۀ د شکایت کولو نه ډیر زیات ځان ساته اګر که ستا غوښه پۀ قینچیانو باندې پریکړے شي- (شرح فتوح الغیب(اردو)،ص170،171ملخصاً)

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَیْه د خلیفه مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُاللهِعَلَیْه بیان دے: یو ځل اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَیْه بیمار وو، زۀ د تپوس کولو د پاره لاړم، د محاورې پۀ طور مې پوښتنه وکړه: حضورا اوس د شکایتونو څۀ حال دے؟ اوئې فرمائیل: شکایت د چا نه وي؟ د الله (پاک) نه خو مې نۀ مخکښې شکایت وو او نه اوس دے، د بنده د خدائے نه څنګه شکایت! (صَدْرُالشریعه رَحْمَةُاللهِعَلَیْه فرمائي:) ما د همیشه د پاره د دې محاورې نه توبه کړله- (فتاویٰ امجدیہ، 388/2)

دلته پۀ عام بول چال کښې هُم شکایت وئیلے شي- ما ته د خیټې د درد شکایت دے، ما ته د ملا د درد شکایت دے، د لاس تنګۍ شکایت دے، د سر د درد شکایت دے- د شکایت لفظ وئیلو نه مخکښې سوچ کول پکار دي چې دا چا راکړے دے؟ نو آیا د هغۀ نه شکایت هم کیدے شي؟

زما مرشد غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِعَلَیْه ډیر پۀ ښکلي انداز کښې پوهه کړو چې شکایت مۀ کوئ- د حضرت ابراهیم خلیلُ الله عَلَیْهِ السَّلَام یو قول پۀ قرآنِ کریم کښې دے:

﴿ وَ اِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ یَشْفِیْنِ ﴿۸۰﴾ ﴾ (پ 19، الشعراء:80) ترجمه: او چې کله زۀ بیماریږم نو هُم هغۀ ما ته شفا راکوي-

یعنې آداب دا دي چې بیماري، مصیبت پریشاني د ځان طرف ته منسوب کړې، داسې مۀ وایئ چې زۀ رَبّ بیمار کړے یم بلکې داسې وایئ: چې زۀ کله بیمار شم نو هغۀ ما ته

شفا راکوي- شِفا، صحت يو نعمت دے- بعضې خلق تر دې پورې وائي چې رَبّ زۀ د اولاد د نعمت نه محرومه کړے يم، دا ډېره سخته جمله ده، لږ غور وکړئ چې تۀ د اللّٰه پاک څومره خبرې منې، څومره فرمانبرداري يې کوې- بهر حال د اللّٰه پاک نه شکايت نه دي کول پکار- که څوک دا جمله وه وائي نو پۀ هغۀ ته ردي بدي نه دي وئيل پکار، ډير خلق داسې جملې وائي، مَعَاذَ اللّٰه! د وئيلو پۀ وخت د چا دا نيت نه وي چې هغۀ د رَبّ نه شکايت کوي-

اهمه خبره: شکوه شکايت يو لفظ دے- پۀ بعضې صورتونو کښې د رَبّ نه ګيله وي چې رَبّ زما سره داسې ولې وکړل که اعتراض بياموندے شي نو بنده به د اِسلام نه بهر شي خو عام طور چې دا وئيلے کيږي چې د بيمارۍ شکايت دے پۀ دې باندې دې هيڅ حکم نه لګولے کيږي- زۀ هم د اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د واقعې نه پوهه شوم چې شکايت لفظ نه دي وئيل پکار-

## د دِيني کتابونو د لوستلو ترغيب

هره هفته پۀ مَدَني مذاکره کښې د يوې رسالې اعلان کولے شي، د دې پي ډي ايف او ويونکې رساله (Audio Book) وائرل کيږي- تاسو هم د مکتبة المدينه او د اهلِسُنَّت د علمائے کرامو کتابونه لولئ نو داسې قِسمه معلومات به درته حاصليږي- اوس خو عِلم حاصلول ډير اسان شوي دي، مشهوره ده چې تږے د کوهي خوا له ځي خو اوس کوهے کور کور ته رسيدلے دے او وائي: راشئ تږو! تنده ماته کړئ- خو مونږه د لوستلو او اوريدلو د پاره تيار نه يو- تاسو دا ولولئ، واورئ، د دُنيا او اخرت ډير خيرونه به مو نصيب شي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! -

مشکلوں میں مرے خدا میری
ہر قدم پر مُعاوَنت فرما
سرفراز اور سُرخرو مولیٰ
مجھ کو تُو روزِ آخرت فرما

(وسائلِ بخشش، ص 75)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ټولو نه زيات مهربانه

د بغداد سرکار، حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: پۀ انسان باندې اکثر مصيبتونه هم د الله پاک پۀ بارګاه کښې د ګيلو معنو کولو پۀ وجه نازليږي- اے نادان انسانه! تۀ پۀ کومه څُله د الله پاک نه ګيلې معنې کوې حالانکې هغۀ د ټولو نه زيات رحم کوونکے دے، مهربانه دے، هغۀ پۀ خپلو بندګانو باندې بالکل ظلم نه کوي- پۀ شفقت او مهربانۍ کوونکو مور او پلار باندې الزام لګيدے شي، نبيِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: اَللّٰهُ اَرۡحَمُ بِعَبۡدِهِ الۡمُؤۡمِنِ مِنَ الۡوَالِدَةِ الشَّفِيۡقَةِ بِوَلَدِهَا يعنې "الله پاک د مور پۀ بچي باندې د شفقت کولو نه زيات پۀ خپل بنده باندې مهربانه دے-" (بخاری،4/100،حدیث:5999)

اے د الله پاک بنده! تۀ باادبه جوړ شه او د مصيبت پۀ وخت صبر وکړه او که تۀ صبر نشې کولے نو بيا هم صبر وکړه او د شريعت د احکاماتو پابندي وکړه او د الله پاک پۀ رضا باندې راضي اوسه، خپل ځان د نفس د خواهشاتو نه واړوه او خپله ژبه د ګيلو معنو نه ساته- چې کله تۀ دا هر څۀ وکړې او که ستا پۀ قِسمت کښې خير او نيکي وي نو الله پاک به ستا پۀ پاک ژوند او خوشحالۍ کښې اضافه وکړي او که پۀ تقدير (يعنې الله پاک چې څۀ ستا پۀ قِسمت کښې ليکلي دي پۀ هغې) کښې ستا د پاره پريشاني وي نو الله پاک به د فرمانبردارۍ پۀ وجه د هغې نه ستا حفاظت وکړي او تا به پۀ خپله رضا باندې راضي وساتي تر دې پورې چې هُغه پريشاني به تيره شي او هر آفت هم د خپل وخت پوره کيدو نه پس ځي لکه څنګه چې د شپې نه پس ورځ راځي نو هغه د خپلې رڼا پۀ ذريعه د

شپې تيارۀ ختمه کړي- (فتوح الغیب (اردو)، ص 54 تا 56 ملتقطاًوملخصاً)

دولتیں ایسی نعمتیں اتنی | بے غرض تونے کیں عطا یارب
تو کریم اور کریم بھی ایسا | کہ نہیں جس کا دُوسرا یارب
تو حسن کو اُٹھا حسن کر کے | ہو مع الخیر خاتمہ یارب

(ذوقِ نعت، ص 85،87)

يعنې يا الله پاکه! چې زما خاتمه ښه وي- زما ښکلے مرګ نصيب کړې-

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد دے: د مرګ وخت رانزدې دے يعنې زما د دُنيا نه د رخصتيدو وخت رانزدې دے او زما خواهش دا دے چې پۀ مدينه منوره کښې د ايمان سره مرګ او پۀ بقيعِ مبارک کښې د خير سره دفن کيدل نصيب شي او هغۀ قادر دے- (حیاتِ اعلیٰ حضرت، 461/3) الله پاک دې زمونږه د خير سره پۀ جنَّتُ البقيع کښې دفن کيدل نصيب کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د هرې سختۍ نه پس اسانې ده

زما مُرشدِ کريم، حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: اکثر داسې کيږي چې تۀ (د پريشانی وغيره پۀ حالت کښې) وائې: زۀ څۀ وکړم؟ چرته لاړ شم؟ څۀ حل کړم؟ نو پۀ جواب کښې تا ته وئيلے شي: پۀ خپل ځائے باندې ايسار شه او د خپل حد نه مخکښې مۀ ځه (يعنې بے صبري مۀ کوه) تر دې پورې چې ستا خوا ته د هغۀ د طرف نه فراختيا راشي چا چې تا ته پۀ دې حال کښې د ثابت قدم اوسيدو ارشاد وفرمائيلو، الله پاک پۀ 4 سيپاره سوره آلِ عمران آيت نمبر 200 کښې ارشاد فرمائي:

﴿اِصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا ۫ وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ "ترجمه: صبر کوئ او پۀ صبر کښې د دُښمنانو

نه مخکښې اوسئ او د اِسلامي سرحد څوکۍ کوئ او د الله نه تل ویرېږئ -" د دې آیت په تفسیر کښې حضورِ غوثِ پاک رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: اے مؤمِن بنده! الله پاک تا ته د صبر حکم وکړو بیا په صبر کښې هم مبالغه او په دې باندې په مضبوطتیا سره د ودرېدلو یې وفرمائیل او اوئې فرمائیل: د الله پاک نه د صبر پرېښودو نه ویرېږه ځکه چې خیر او سلامتي په صبر کښې ده- لکه څنګه چې په روایت کښې دي: " صبر په ایمان کښې داسې دے لکه څنګه چې په بدن کښې سر-" دا هم وئیلے شوي دي چې د هر څیز ثواب د یو مقدار او اندازې سره دے د صبر نه علاوه، بے شکه چې د صبر ثواب بے حسابه دے- الله پاک په 23 سیپاره سورۃ الزُّمَر، آیت نمبر 10 کښې ارشاد فرمائي:

﴿اِنَّمَا یُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَیْرِ حِسَابٍ﴿۱۰﴾﴾ ترجمه: هُم صبر کوونکو ته به د هغوئي ثواب بے حسابه پوره پوره ورکولے کیږي-

(فتوح الغیب(اردو)، ص81تا82ملخصاً- شرح فتوح الغیب(اردو)، ص254،255)

زما مُرشِدِ کریم، غوثِ اعظم دستګیر حضرت شیخ عبدُ القادِر جیلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ نور فرمائي: اے بنده! صبر په دُنیا او په اخرت کښې د هر خیر او نیکۍ اصل دے او هُم په صبر مؤمِن د الله پاک رضا ته رسي- د صبر پرېښودو نه ځان ساته ځکه چې په بے صبرۍ سره به تهٔ په دُنیا او په اخرت کښې شرمیږې- (شرح فتوح الغیب(اردو)، ص256ملتقطاً)

رونا مصیبت کا تُو مت رو آلِ نبی کے دیوانے
کرب و بلا والے شہزادوں پر بھی تُو نے دھیان کیا؟
(وسائلِ بخشش، ص 197)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نيکۍ بنياد


اے بنده! که تهٔ غواړې چې تهٔ پرهيزګاره، پهٔ الله پاک باندې باور کولو والا جوړ شې نو صبر اختيار کړه ځکه چې صبر د خير بنياد دے چې د صبر پهٔ باره کښې ستا نيت صحيح شي او تهٔ د الله پاک د رضا د پاره صبر وکړې نو تا ته به د دې بدله ميلاويږي چې تهٔ پهٔ دُنيا او اخرت کښې د الله پاک پهٔ قُرب (يعنې نزدې والي) حاصلوونکو او محبت کوونکو کښې داخل شې- (الفتح الربانی، ص136)

مسلماں ہوں اگرچہ بد ہوں سچّے دل سے کرتا ہوں
ترے ہر حکم کے آگے سرِ تسلیم خم مولٰی
(وسائلِ بخشش، ص97)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د راروانې هفتې رساله




فیضان مدینه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net